# "پښتونخوا" حقيقت دا دے

روښان يوسفزے

د نړۍ په مخ هيڅ يوه ټولنه کښې يوه نظريه، رجحان يا څۀ وړه يا لويه مسئله بغير د څۀ خپل لازمي بنياد نه کله هم نۀ وجود موندلے شي او نۀ خپل ځان په چا منلے يا ځرګندولے شي ولې چې نظريات، رجحانات او مسئلې په هواګانو کښې نۀ پېدا کېږي بلکې د هغې بنياد او جرړې په زمکه (ټولنه) کښې موجودې وي او تر څو چې د هغو خپل زميني وجود او بنياد موجود او مضبوط وي نۀ خو ئي څوک ختمولے شي او نۀ ترې څوک انکار کولے شي. پاکستان کښې د صوبائي خودمختارۍ او د قوميت مسئله له ابتدا نه تر اوسه پورې سخت قومي معاشي جبر، استحصال او قومي نا برابرۍ پېدا کړې ده. دا ملک چې په حقيقت کښې يو کثيرالقومي ملک دے چې پکښې بنيادي توګه باندې څلور لوئے قومونه د خپلې خپلې مورنۍ ژبې، کلتور، شريک تاريخ، شريکې زمکې، قومي نفسياتي ساخت او د جغرافيائي وحدت سره له زرګونو کلونو راهسې په دې خاوره ميشته راروان دي. په دوي کښې د درېو قومونو د خپلې خاورې او ټاټوبې خپل خپل نوم او شناخت موجود دے ولې له بده مرغه د يو سازش ترمخه پښتون اولس د خپلې خاورې د خپل زرګونو کالو زوړ تاريخي نوم او شناخت "پښتونخوا" نه محروم پاتې کړے شوے دے او د افسوس خبره دا ده چې په دغه سازش کښې ځنې قام خرڅه پښتنو هم برخه اخستې ده.

اګر چې د صوبې تر ټولو لويې منتخب قامي جرګې يعنې صوبائي اسمبلۍ د نوم د بدلون په حقله څو وارې قراردادونه هم پاس کړي دي او د هغې په رڼا کښې اصولاً او قانوناً د صوبې نوم بايد چې "پښتونخوا" شوے وے ولې له بده مرغه د ځنو سياسي قوتونو د سازشونو دلاسه د پښتنو خاوره د خپل اصل تاريخي نوم نه محرومه ده او د دې محرومۍ ګڼ شمېر سياسي وجوهات او اسباب دي خو د طوالت له خاطره ترې ډډه کوم.




صوبه کښې د دې خاورې د قام پرست ګوند حکومت راغلے دے او هغوي د خپلو

نورو اتحادي ګوندونو په مرسته او ملګرتيا خپلې خاورې ته د خپل قامي شناخت ورکولو کلکه فېصله کړې ده او خپل اتحادي ګوندونو ورته هم کلک باور ورکړے دے البته د بعضې خلقو له خوا د پښتونخوا په ځائے د افغانيه يا پښتونستان په نوم زيات زور راوړلے شي او دا هم ډېره د ستائينې وړ خبره ده چې د صوبې د خلقو اکثريت سره د خپلې صوبې د نوم بدلولو شديد احساس او خواهش پېدا شوے دے او غواړي چې يو داسې نوم دې وي چې هغه د دې خاورې د اوسېدونکيو خپل قامي شناخت او پېژندګلو وي تر کومه چې د افغانيه يا د پښتونستان د نوم تعلق دے نو دا هم داسې نامې دي چې د دې خاورې او د کلهم اولس جوته پېژندګلو کوي ولې تر څو چې د "پښتونخوا" تعلق دے نو دې سلسله کښې چې تاريخ څومره زمونږ لاربښودنه کوي هغه ډېره واضحه قوي او د تاريخي ثبوتونو سره ده او دا يو داسې نوم دے چې خپل وجود د تاريخ په اوږدو کښې هم ثابتوي ځکه نو دا تاريخي نوم د چا د مخصوص ذهن پېداوار يا د يو مخصوص سياسي ګوند اختراع ګڼل او بې ځايه او بې دليله متنازعه کول دې خاورې او دې اولس سره ډېر زياتے دے. د "پښتونخوا" خپل تاريخي پس منظر نه وړاندې د دې کلمې د ليکلو په حقله هم دا وضاحت ضروري ګڼم چې دا کلمه پښتون خوا ليکل پکار دي او ورسره مهموزه (ه) يعنې "پښتونخواه" نۀ دي ليکل پکار ځکه چې د دواړو کلمو په معنيٰ او مفهوم کښې ډېر لوئے فرق دے د پښتون خوا معنيٰ ده د پښتنو خوا يعنې علاقه يا څنګ چې مونږ په عامو خبرو اترو کښې وايو چې راځه دې خوا کښېنه، زما خوا کښې کښېنه او دا لفظ خوا پښتو کښې د زړۀ په معنيٰ کښې هم استعمالېږي لکه خوا مې پخه شوه يا خوا ئې پخه شوه يا خوا ته مې نۀ کېږي. په دې بنياد پښتون خوا د پښتنو علاقه هم ده او زړۀ ئې هم دے او چې کله پښتون خواه وليکلے شي نو بيا دا کلمه د فارسۍ په ترکيب معنيٰ بدله کړي او مطلب ئې د پښتون غوښتونکي شي ځکه نو بايد چې د دې نوم په ليکلو کښې د دغسې غلطۍ نه خپل ځانونه وژغورو.

د "پښتونخوا" په حقله ګڼ شمېر تاريخي ثبوتونه موجود دي او پکار دي چې دې لړ کښې هغه ښاغلي د هغو تاريخي حوالو او شهادتونو په موجودګۍ کښې په دې خبره قائل کړے شي کوم چې ئې مخالفت کوي. دا د دې خاورې خپل اصل او د زرګونو سوونو کالو زوړ تاريخي نوم دے، دې لړ کښې چې تر اوسه څومره هم غربي مورخينو کار کړے دے د هغو اکثريت په دې خبره يوه خلۀ دے چې د "پښتون" کلمه د "افغان" د کلمې نه ډېره زړه ده او د خپلې دې دعوې په ثبوت کښې دغه مورخين د يوناني بابائے تاريخ هيروډوټس د ليکلي شوي تاريخ نه هغه عبارتونه وړاندې کوي چې په هغو کښې د پښتون او پښتون خوا ذکر لږ ډېر په بدل شکل کښې شوے دے. هېروډوټس دغه ذکر تخميناً څلور سوه کاله قبل از مسيح په خپل ليکلي شوي تاريخ کښې کړے دے چې پکښې پښتنو ته پختويس يا پکتويس وئيلے شوي دي او په دې بنياد د اکثرو مورخينو دا پوخ خيال دے چې د پښتنو د وطن نوم هم هغه هومره

زوړ دے خو مره چې لفظ پښتون زوړ دے او د خپلې خبرې په ثبوت کښې د هیروډوټس دا عبارتونه وړاندې کوي چې داریوش دوه تنه د دې خبرې معلومولو د پاره ولېږل چې اباسین کوم ځائے سمندر سره یو کېږي، دغو دواړو خپل کار د کیپتروس له ښاره او د پکتیکا له وطنه شروع کړو. نور هندیان هم میشته وو چې د کیپتروس له ښاره او د پکتیکا له وطن سره شریکه پُوله لري او د نورو هندیانو شمال ته میشته دي. پختویس خلقو پوستینونه اغوستي وو او وطني لیندې او تُورې ئې ګرځولې. نامتو مورخین هنري بیلیو، هنري لوونتال، سرالف کېرو او د لینګوسټ سروې اف انډیا مولف راج ګریرسن د هیروډوټس په پورته ذکر شوو عبارتونو کښې د پکتیکا او پختویس نومونه اوسنۍ پښتون خوا او پښتون ګڼي.



د هیروډوټس نه ډېره زمانه وروستو چې بل کوم معتبر تاریخي شهادت د "پښتونخوا" په حقله موږ سره موجود دے هغه د اخون درویزه بابا کتاب "مخزن" دے او ذکر شوے کتاب د ۱۶۵۳ء او ۱۶۱۲ ترمنځ لیکلے شوے دے چې پکښې په څو کرته د دې خاورې د پاره "پښتونخوا" او "پښتون خا" وئیلے شوې دي. د مثال په توګه "حضرت سېدعلي ترمذي وۀ په بنېر کښې پښتون خوا په مثال شپه وۀ دے ډیوه وه په اندهېر کښې دے نېک خوا د پښتونخوا ؤ ساتندویه په دنیا وۀ. یو بل ځائے د پیرروښان د کشر زوي جلال الدین په حقله لیکي چې:" دغه لا په خلۀ کړه چې بادشاه د پښتنو یم
پښتنو ټولې پرې وکړ ولې دے هم پښتونخا لره بلا شۀ".



د بایزید انصاري المعروف پیرروښان په حقله لیکي چې:

"بایزید ډېر په عقل پور وۀ
د دنیا عقل ئې ډېر وۀ
هوښیاري او زیرکي ئې ډېره زده وه
د قیامت عقل ئې هېر وۀ
لکه وکاته تر ډېره چې تاجک شریعتي دے
ګمراهي نۀ قبلوینه پیروان د پاک نبي دے
ځکه ډېره ګمراهي ئې دا له نۀ څرګندوله
اے عالمه ده یرغه وکړه په بېله له احمده
زما کار دے پښتونخا لره به ځمه"
پښتونخا هم ډېر هله وو خلقه شوله ورماته

د اخون درویزه نه پس د تُورې او قلم خاوند ستر خوشحال خان خټک هم دا خاوره د پښتونخوا په نوم په خپل دې شعر کښې یاده کړې ده:

نوره واړه پښتونخوا په ځائے میشته ده
خو یو زۀ دې زمانې پکښې منصور کړم

د خوشحال بابا نه وروستو زمونږ یو بل کلاسیک شاعر معزالله خان مومند شاعر انسانیت رحمان بابا په دې الفاظو یاد کړے دے چې:

د تمامې پښتونخوا له شاعرانو
معزالله عبدالرحمان دے منتخب

د معزالله خان مومند نه پس د احمد شاه ابدالي دا مشهور شعر:

"د ډيلي تخت هېرومه چې را ياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه"

دغه رنګ دا احمد شاه بابا د عصر زمونږ بل پېژندلے شاعر پير محمد کاکړ د رحمان بابا د ستائينې په ترخ کښې د پښتونخوا نوم څۀ په دې رنګ استعمال کړے دے:

لکه شعر دے د دۀ په پښتونخوا کښې
بل به کم وي په دا وخت د افغان شعر

د خپلو ذکر شويو اتلانو نه علاوه څنې انګرېز مستشرقينو هم د پاکستان د قيام نه ډېره موده وړاندې دا خاوره د پښتونخوا په نامه ياده کړې ده لکه ډاکټر ليډن په کال ۱۸۱۲ء کښې د اسيائي څېړنو په يولسم ټوک کښې د پير روښان په حقله ليکي چې" بايزيد چې د ننګرهار نه روان شۀ پښتونخا ته ئې مخه وکړه".

د ډاکټر ليډن نه څۀ زمانه پس نامتو مستشرق جېمز ډارمستېټر چې د پښتو کومي اولسي سندرې، چاربېتې او متلونه راغونډ کړي دي او



په کتابي شکل کښې ئې خپرې کړې دي نو هغه هم خپل دغه کتاب باندې په کال ۱۸۸۸ء کښې نوم د " پښتونخوا د شعر هار و بهار" ايښے دے او دا ټولې تاريخي حوالې د دې خبرې پوخ ثبوت دے چې د دې خاورې خپل پخوانے تاريخي نوم "پښتونخوا" وۀ او بايد چې زمونږ کوم ښاغلي د دې نوم مخالفت کوي هغوي دې صرف د خپلې ذاتي انا يا د خپل سياسي مخالفت په وجه دا خاوره د خپل تاريخي نوم نه نۀ محرومه کوي ځکه چې تاريخ ډېر بې رحمه وي او هېڅوک نۀ بخښي او بيا دا يوه داسې منطقه ده چې څنې سياسي مفکرينو دې ته د ټولې ايشيا تيرک وئيلے دے او علامه اقبال خو ئې د ايشيا زړۀ ګڼي.

اسيا يک پيکر آب و گل است
ملت افغان در آن پيکر دل است
از فساد او فساد اسيا
در کشاد او کشاد اسيا

يعنې ايشيا د اوبو او خاورې يو جسم دے او افغان ملت د دې جسم زړۀ دے د دې فساد او ناقلارتيا د ټولې ايشيا د اړې ګړې سبب وي او د دۀ ازادي او خوشحالي د ټولې ايشيا ازادي ده. دغه رنګ يو مشهور جغرافيه دان ايل ډي ستمپ وائي چې" د روس او پاکستان ترمنځه هغه ازاد او غېرتي اولس پروت دے چې د ټولې ايشيا د مستقبل په ټوله روغه جوړه کښې د يو مهم کردار او مقام څښتن دے. بايد چې ټول پښتانۀ د خپل وجود او د خپلې خاورې په معنيٰ ځان پوهه کړي.

**حوالې:**

پښتانۀ- حبيب الله تږے، مخزن- اخون درويزه